تابش پوهنتون

ژورنالیزم پوهنځی

اروا پوهنه

پنځم سمستر

لومړی درس

# استاد : سمیع الله ((ساپی))

بسم الله الرحمن الرحيم

# کورس پالیسي

۱- دغه مضمون په هفته کې دوه ساعته تدریسیږي.

۲- د مضمون هر ساعت پنځوس دقیقې دی.

۳- د کامیابۍ نمره(۵۵)ده .

۴- په امتحان کې د شمولیت لپاره(۶۵)فیصده حاضري ضروري ده .

۵- محصلین باید د درس په جریان کې خپل لرغبري بند وساتي. که کوم زده کوونکي نوموړې چاره نه وه ترسره کړې، د ټولګي څخه ویستل کیږي .

۶- ټول محصلین باید په خپل وخت ټولګي کې حاضر وي، د ناوخته راتګ په صورت کې محصل ته اجازه نه ورکول کیږي او په دغه ساعت کې غیر حاضر شمیرل کیږي.

۷- محصل باید د نوي درس لپاره مطالعه ترسره کړې وي؛ ترڅو په کورس کې فعاله ونډه ولري .

# د مضمون لوستنې موخې

۱- ارواپوهنه او ډولونه يې پېژندل .

۲- د ارواپوهنې په اړه عمومي معلومات او پوهه حاصلول.

۳-محصلان به په اروپوهنه پوه شي او هم به له هغې څخه په ټولنه کې استفاده وکړي .

۴- یو شخص او یا یوه ټولنه به له رواني لحاظه وپېژني.

۵- د رواني ستونزو د حل په لارو چارو به وتوانیږي.

۶-محصلان به د اروپوهنې څخه په کټې اخیستنې په خپله ټولنه،کورنۍ او اداره کې رواني ستونزې حل کړي، او هم به د اروپوهنې مېتودونه وپېژني او له هغې څخه به په مرکو او مصاحبه کې ګټه پورته کړي.

۷- د ارواپوهنې ځانګې به وپېژني او د هر يوه څخه به په خپله ساحه کې ګټه پورته کړي.

۸- ذکاوت او د ذکاوت معلومولو په لارو چارو به پوه شي.

۹- د ټولنې وګړي به د سلوکي ( ذهني، حرکي، هيجاني او اجتماعي ) سلوکونو له مخې وپېژني.

۱۰- د اروپوهنې په اهميت به وپوهېږي او د ځان او ټولنې په ګټه به ترې استفاده وکړي .

## د اروا پوهنې پېژندنه

اروا پوهنــه د دوه یونــاني کلمــو څخــه جــوړه شــوې ده (ســاېکا - لوژی)( psycho-logy)څخه مشتق شوی ده ،چی معنی یــې (علــم الــروح یــا علم النفس) ده.

<u>اروا‌پوهنه</u> :هغه علم دی، چې رواني پېښې ترڅېړني لاندې نیســي او هغې ته د حل لارې پرانیزي.

<u>اروا پوهنه</u>: دهغه علم څخه عبارت دی، چی د بشر ســلوک او کــردار او دهغه روابط په هر اړخیزه توګه څېړي.

## د روان پوهنې موضوع

۱ - د اروا پوهنې موضوع ذهن یا رواني پدیدې (احساسات ،تصورات، خاطرات ،ارادی، استدلالات ،افکار او عواطف) په سمه توګه څیړي .

۲ - ټول هغه فعالیتونه چې ژوندی موجود یې د چاپېریال سره د جوړښت په خاطر ترسره کوي،تر بحث لاندې نیسي.

۳- رواني پېښې ، خصوصيات ،اسباب پېژندل

اوهغې ته د حل لارې لټول ؛ ترڅو په رواني

لحاظ زيانمن وګړي د محيط سره په سازش کولو

وتوانيږي.

## د روان پوهنې موخې او ګټې

۱ - د روان پوهنې له برکته موږ خپل ځان په ښه توګه پېژندلی شو او د ژوندانه په موخو او خپل سلوک او کردار ته پوره پاملرنه کولای شو.

۲ - همدا راز د روان پوهنې له مخې موږ د نورو وګړو سلوکي او کردارې څېړنه کولای شو او دهغې په سلوک او کردار کې مثبت او منفي تاثیرات پېژندلای او معلومولای شو.

۳- د اروا پوهنې په مطالعې سره مورږ د ټولنيزو ستونزو پـه حل برلاسي کېږو او کولای شو ټولنيزې ستونزې پـه خـورا ښه ډول حل کړو.

۴- د انســاني عــاداتو لکــه تفکــر تــه وده ورکــول او د استعدادونو روزل په دې پوهه کـې اغېـزمن او اغېزنـاک تمامېدای شي.

۵- د ښوونې او روزنې په برخه کې د روانشناسۍ څخه ډېره ګټه اخېستلای شو لکه د استعدادونو او ذکاوتونو پېژندنه او هغې ته وده ورکول او د زده کوونکو په رواني حالت پوهېدنه او د نورو رواني ستونزو د حل په لارو چارو توانیدل د دې علم له عمده دندو څخه دي.

۶- د انساني طبیعت پېژندل د روان پوهنې له مخې ترسره کېږي او په فردي توپیرونو پوهېدنه هم د دې له مخې ښه ترسره کولای شو.

روان پوهنه له موږ سره په کومو برخو کې مرسته کولای شي؟

**۱ - په ټولنه کې د بېلابېلو وګړو ،بېلابيلوقشرونو،بېلابېلومحيطونو او د ژوندانه په هر ډول حالاتو کې سازش کولو کې روان پوهنه له موږ سره مرسته کولای شي او په کاري چاپېريال کې د نورو وګړو سره ښه توافق په کولو کې مهارت پيدا کوو.**

۲- د ارواپوهنې په مرسته مورږد ښې رویې په رامنځته کولو توانیږو او دهر ډول ارثي ،محیطي او فرهنګي عواملو کې د مثبتو اړیکو په جوړولو کې رغنده رول لوبولای شو.

۳- د زده کوونکو په علمي  سویه ښه پوهېږو او د زه کوونکو په رویه کې مثبت بدلون رامنځته کولای شو او هم د ژوند په مختلفو دورو کې د زده کړې په ځانګړتیاوو د روان پوهنې له مخې ښه توانیدلای شو.د زده کوونکو فردي توپیرونه ښه پېژندلای، معلوموﻻی او د نورو وکړو او زده کوونکو استعدادونه راته په ښه ډول معلومیږي او د زده کړې او ارزیابۍ قوانین په خورا ښه  توګه پېژنو.

منته

واتساپ

0782 88 6000